محمد انور آخړ
۲۰۲۳/۰۵/۲۶

# د جمهوريت د سقوط عوامل
# د جنګسالارانو ونډه
## (پنځمه برخه)



**په شمال کې جنرال عبدالرشيد دوستم (۲)**

د ۲۰۱۴ز، کال د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د جنرال دوستم اهميت لاپسې زيات شو، ډاکټر اشرف غني همدغه جنګسالار چې څو ځلې يې د هغه د نيولو او ځپلو غوښتنه کړې وه، د خپل لومړي مرستيال په توګه وګماره چې له ټاکنو وروسته د ولسمشر لومړی مرستيال شو. کله چې ولسمشر غني بهر ته په سفر ؤ نو دا بې سواده او نادان جنرال به د افغانستان د ولسمشر په توګه په څوکۍ ناست ؤ، هغه افغانان چې د دوستم په نااهلۍ پوهيدل نو ځانونه به سپک ورته ښکاريدل، موږ په دې شرميدلو چې داسې يو نااهله او له (پنج فِسق و فساد) ډک کس زموږ مشري کوي. ښايي جنرال دوستم دا مهال فکر کړی وي چې له ټولو افغانانو پياوړی او هوښيار شخص دی ځکه چې د ټولو پر سر حاکم دی. که په افغانانو کې د ولسمشرۍ د مرستيالۍ وړتيا د دوستم په څېر يو کس ولري نو نور افغانان بايد ټول لېونيان وي ځکه چې د ولسمشر مرستيال مو د دوستم په سويه وي نو د نورو افغانانو سويه به په کومه کچه وي؟
جنرال دوستم د ولسمشرۍ د مرستيالۍ په جريان کې يو بل تر ټولو ستر شرموونکی عمل تر سره کړ چې له امله يې ټول افغانان وشرمول، د دوستم هغه بې ننګه عمل د اوزبېک توکمه انجنير احمد خان ايشچي شکنجه او پر هغه جنسي تېری ؤ چې په جوزجان کې يې شکنجه کړی ؤ. (۱۳۹۵/۹/۲۳ل. ل)
احمد خان ايشچي د دغه شرموونکي جريان په پای کې وايي:**«... وروسته له دغه کار ښځه د دوستم په کور کې د هغه له څواکونو سره پنځه ورځې، په داسې حال کې بندي وم چې پرتوګ مې نه درلود.»**
د جنرال دوستم د دغه ناوړه عمل په اړه په کابل کې د امريکا او انګرېز سفارتونو او د اروپايي اتحاديې دفتر خواشيني څرګنده کړه، له افغان حکومت يې وغوښتل چې په اړه يې پلټنې تر سره کړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ



ولسمشرۍ ماڼي ووېل چې په ټراؤ به يې هر اړخيزې څېړنې وکړي چې عدلي او قضايي مراجع به د دغو تحقيقاتو پر بنسټ وړ کړنې ترسره کړي.

د دوستم دفتر له پېښې انکار وکړ ويې ويل چې د ځينو مجهولو کړيو له خوا د هغه د تخريب او بدنامۍ په موخه دا ډول تبليغات کيږي. دوستم وروسته له دغه ناوړه عمل څخه ترکيې ته ولاړ.

خو د ولسمشرۍ د ۲۰۱۹ز، کال په ټاکنو کې د اشرف غني پر خلاف د جمعيت له جنګسالار ډاکټر عبدالله سره يو ځای شو چې په تېرو ټاکنو کې يې

(شکنجه شوی انجنير احمد خان ايشچي)

سخت مخالف ؤ. نوموړي ټاکنې جنجالي او بحراني شوې چې له امله يې د اشرف غني او ډاکټر عبدالله تر منځ يو ناولې ترون رامنځ ته شو، په ترون کې د نورو اړخو تر څنګ دا هم راغلي وو چې جنرال دوستم ته به ولسمشر غني د مارشالی د رتبې فرمان هم ورکوي، هغه وو چې د نړۍ دوهمه درجه مفکر ډاکټر اشرف غني د افغانستان او نړيوالو نظامي معيارونو پر خلاف په افغانستان او نړۍ کې دغه مشهور جنايتکار ته د مارشالی رتبې فرمان لاس ليک کړ، ولسمشر غني له دې کبله چې دوستم ته يې د مارشالی رتبه ورکړې وه، په کور دننه او بهر کې ورټل شو. د طالبانو وياند ووېل چې دا ډول بې مانا مارشالی ارزښت او اعتبار نه لري.

د جنرال دوستم د مارشالی رتبه په حقيقت کې يوه لنډ مهالې نمايشي او بې ارزښته رتبه وه، ځکه چې د بې ارزښته او تش په نوم ولسمشر په فرمان ورکړای شوی ؤ، دوستم خپله د مارشالی دريشي ډېره په تن نه کړه، ډېر ژر له طالبانو سره په جګړه کې داسې يوې ليونی تېښتې ته اړ شو، تر هغې چې د حيراتانو پر پله نه ؤ اوښتی، شا ته يې ونه کتل، د مارشالی دريشي ترې پاتې شوه او د طالبانو يو سرتيري واغوسته چې دا ډول شرموونکي پېښه به په تاريخ کې ثبت شي.





په نړۍ کې د مارشالی پوړ ته د رسېدلو شرايط او معيارونه ځرګند دي، ورانديز له هغې چې يو سترجنرال مارشال شي بايد: لوړې پوځي او علمي زده کړې ولري، پوځي او علمي کتابونه يې ليکلي وي چې په پوځي اکاډميو کې لوستل کيږي، له هواده بهر يې په جګړه کې د دښمن هېواد ښارونه په اسانۍ سره فتح کړي وي، د پوځي رتبو مراحل يې له بريدمنۍ تر سترجنرالی پورې تېر کړي وي، په جګړو کې په جنګي جنايت تورن نه وي او جنګي مجرم نه وي پېژندل شوی. له بده مرغه چې د افغانستان درې تنه، تش په نوم مارشالان په ځانګړي توګه قسيم فهيم او رشيد دوستم پورته يوه ځانګړتيا هم نه لرلې.

حقيقت دا دی که څوک د دوستم استعداد او پوهې ته زير شي نو هغه د پوځ د يو بريدمن د رتبې وړتيا هم نه لري خو دا چې د ډاکټر عبدالله په ټينګار او د مفکر اشرف غني د نااهلی او بې فکرۍ له امله، يو بې شخصيته کس ته مارشالي ورکول کيږي يوه تاريخي تېروتنه او خيانت دی او د نړۍ د ريښتنو مارشالانو حيثيت او عزت ته توهين او پرې لوبې کول دي.

رشيد دوستم چې له آره د پوځي رتبو په ارزښت نه پوهيده، د شمال په حوزه کې د دوستم تر ولکې لاندې سيمو کې تر ۱۳۷۴ل. ل، کال پورې (پنځو زرو) کسانو ته د جنرالی رتبې د دوستم له خوا ورکړل شوې وې چې له هغو څخه درې زره کسان ډګر جنرالان او پاتې نور يې بريد جنرالان او تورن جنرالان وو چې د وړتيا په لحاظ په سلو کې ۹۹ يې سوچه بې سوادان وو.

دوستم خپلو کسان ته تر دې کچې د جنرالی رتبې وېشلي وې چې په مزار کې ميلمه پالان (لاس مينځونکي) او د جنبش د بهرنيو اړيکو رياست ساتونکی هم جنرالان وو. (د ډېرو مالوماتو لپاره په افغان جرمن انلاين پورټال کې د جنرال سيدعبدالقدوس سيد ليکنه ولولئ: [نګاهی به حراج رتب جنرالی و مارشالی درافغانستان])



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څير و لولئ

په افغانستان کې د سلطان محمد غوري، لوی احمد شاه بابا، وزیر محمد اکبر خان او یو شمېر نور نوموړکو اتلانو پرته هېڅ څوک د مارشالۍ د رتبې مستحق نه دي، تر دې چې شاه ولي خان هم د مارشالۍ وړ کس نه ؤ، د کابل فتح د وزیرستان او لویې پکتیا اتلانو په خپلو وینو او همت ترلاسه کړې وه. هغه نه روم فتح کړی ؤ نه ډیلی. شاه ولي خان د مارشالۍ معیارونه نه وو پوره کړي، هغه هم یو هوایي مارشال ؤ.

د شمالي ټلوالې جنګسالار قسیم فهیم هم کومه توره نه ده کړې، هغه په بې واکه او بې وسه ولسمشر حامد کرزي باندې په وچ زور ځان مارشال کړ، فهیم د کابل د فتح ادعاء کوله چې کابل یې له طالبانو آزاد کړی دی؟! په داسې حال کې چې کابل د اشغالګرو د هوایي ځواکونو په زور د جمعیت باند غلامانو اشغال کړ، ټولې نړۍ ته مالومه ده چې وړاندې له هغې چې امریکایان په افغانستان برید وکړي، فهیم او انډیوالان یې په پنجشېر کې کلابند ؤ چې له خپلې سوړې نه شول راوتلی.

فهیم په پنجشېر کې پنجشېریانو ته په یوه ناسته کې د خپلې راتلونکې ماتې او تېښتې په هکله څرګندونې کړې وې، هغه تصمیم نیولی ؤ چې وروسته د احمد شاه مسعود له وژنې له پنجشېره د بدخشان ولایت د بهارک ولسوالۍ ته وتښتي. (د ډېرو مالوماتو لپاره په افغان جرمن انلاین پورټال کې د ښاغلي ډاکټر سیدعبدالله کاظم دا لیکنه ولولئ: [آخرین بیانیهٔ مارشال قسیم فهیم در پنجشیر](#))

فهیم په دې پوه ؤ چې په بدخشان کې هم جګړه نه شي کولی، هغه په دې هڅه کې ؤ چې د جګړې په وروستۍ ماتې کې تاجیکستان ته وتښتي، له بده مرغه چې ډېر ژر امریکایانو په افغانستان برید پیل کړ، طالبانو ماتې وکړه، فهیم او دوستم دواړه د یرغلګرو بهرنیانو په زور کابل او شمال ته، د چا په خبره (پاراشوټي راوغورځول شول) له دې وړاندې دوی دواړه له همدې کابل او مزار څخه طالبانو تېښتې ته اړ کړي وو او وروستی ځل مو هم ولیدل چې طالبان په چټکو کې ورپسې راغلل، دوستم او نور جنګسالاران یې له آمو سیندە واړول.

**اصل خبره دا ده چې په افغانستان کې هر څه سرچپه روان دي، د نوموړکو ریښتنو ملي اتلانو هېڅ پته نه لګېږي څکه چې د دوی ځای ملي خاینانو نیولی دی، ملي خاینان اتلان شول، د تېښتې او بې غیرتۍ اتلان مارشالان شول او ...** په دې هېواد کې له څو لسیزو لویه بې انصافي روانه ده، خدای تعالی دې رحم وکړي، نور به څه پېښیږي؟



له بده مرغه دوستم او نورو تښتیدلیو بګېلانو د تل په څېر خپله وروستۍ تېښته ډېره ژر هېره کړه، هغه په ترکیه کې د ۲۰۲۱ ز، کال د ډسمبر په ۲۴مه نېټه وویل چې د (دشت لیلي) تاریخ به بیا تکرار کړي. له ترکیې څخه راپورونه وايي چې د ملي جنبش ګوند مشر عبدالرشید دوستم خپل یو شمېر پوځي قومندانان را ټول کړي او د طالبانو د واکمنۍ خلاف یې د جګړې ژمنه ورڅخه اخیستې ده. د راپورونو په

(تښتیدلي جنګسالاران:عطا نور، دوستم او حاجی محمد محقق)

اساس، په دې را ټولیدنه کې ادعا شوې چې **په دغه [راتلونکې] جګړه کې به د (دشت لیلي) تاریخ بیا تکرار کړي. (**تاند وېبپاڼه)

موږ پوهیږو چې دوستم او نور جنګسالاران به په خپلو متو د طالبانو پر وړاندې هېڅ ونه کړای شي خو که بهرني تیري کوونکي پر هېواد برید وکړي نو بیا کولی شي د تېر په څېر یو څه لنډ مهالی بری ترلاسه کړي.

نېټه:۱۴۰۲/۳/۴ل. ل

**نور بیا**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ